د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 432**

(22 حوت – 28 حوت 1402 هـ ش)

## د د هند او مالدیپ خرابېدونکې اړیکې؛ د چین فکتور



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

**د هند او مالدیپ ترمنځ نږدې تاریخي اړیکې؛ د چین فکتور** ........................................ 3

- د اړیکو د خرابېدو لاملونه ........................................ 4
- د اړیکو د خرابېدو منفي پایلې ........................................ 5
- د چین فکتور ........................................ 6
- پایله ........................................ 7
- وړاندیزونه ........................................ 7
- مأخذونه ........................................ 8

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د هند او مالدیپ خرابېدونکې اړیکې؛ د چین فکتور

**مقدمه**

په هندي بحر کې پروت د مالدیپ جمهوریت له ۱۱۹۲ جزیرو څخه تشکیل شوی دی، چې له ډلې يې په ۲۰۰ جزیرو کې انسانان ژوند کوي. نفوس يې پنځه لکه او شل زره دی او په پلازمېنه مالي کې يې اتیا سلنه نفوس اوسېږي.[1] مالدیپ یو اسلامي هېواد دی. اسلام يې د دولت رسمي دین او نږدې ۹۸ سلنه وګړي يې مسلمانان دي.

په ۲۰۲۳ز. کال د سپتمبر پر ۳۰مه نېټه مالدیپ کې د جمهوري ریاست ټاکنې ترسره شوې، دې ټاکنو ته پخواني جمهور رئیس ابراهیم محمد صالح او محمد معیزو نوماندان وو. د ټاکنو د کمپاین پرمهال ابراهیم محمد صالح هند سره د نږدې اړیکو او د (India First) پر بهرنۍ پالیسۍ سیاست کاوه، خو بل خوا محمد معیزو د کمپاین پرمهال خلکو ته وعده ورکړې وه چې دی به له چین سره نږدې اړیکې پالي او مالدیپ به په تمامه معنی خپلواکه کوي او د هند له نفوذ څخه به يې راوباسي. دغه ټاکنو ته ځینو رسنیو د چین او هند د ټاکنو نوم هم ورکړ، یعنې که ابراهیم يې ګټي، نو دا به د هند د بریا په معنی او که معیزو يې ګټي، نو دا به د چین د بریا په معنی وي. بلاخره ټاکنې محمد معیزو وګټلې او د خپلې کړې وعدې په تعقیب يې له هند څخه مخکې چین ته سفر وکړ.

همدارنګه د هند لومړی وزیر نریندرا مودي د مالدیپ جزایرو څنګ ته پرته هندي لکشدیپ جزیرې ته سفر وکړ او خلکو ته يې دا پیغام ورکړ چې د لکشدیپ جزیره هم د سیاحت لپاره له مالدیپ څخه کمه نه ده، د مودي د دې سفر په غبرګون کې د مالدیپ د کابینې ځینو وزیرانو د مودي خلاف توهین امیزه الفاظ وکارول چې له امله يې د دواړو هېوادونو اړیکې نورې هم خرابې شوې.

په دې تحلیل که به د مالدیپ او هند د دغو اړیکو د خرابوالي پر لاملونو، منفي پایلو او د مالدیپ پر سر په سیمه ییز سیاسي ساختار کې د هند او چین پر سیالیو بحث وکړو.

## د هند او مالدیپ ترمنځ نږدې تاریخي اړیکې

هند او مالدیپ دیني، کلتوري، قومي او ژبني مشترکات لري او دا د دوی د اړیکو د نږدیکت یوه مهمه وسیله ده. هند لومړنی دولت و چې تر ټولو مخکې يې په ۱۹٦٥ز. کال کې د مالدیپ له رامنځته کېدو وروسته دغه دولت په رسمیت وپېژانده.[2]

مالدیپ په ۱۹٦٥ز. کال کې د ملګرو ملتونو غړی شو او په همدغه کال يې خپل بهرنی سیاست اعلان کړ چې اولویت يې په کې هند، پاکستان او سریلانکا ته ورکړی و او غوښتل يې له دوی سره نږدې اړیکې ولري.[3]

په ۱۹۸۰یمو کالونو کې د هند او مالدیپ اړیکې یو ډېر مهم پړاو ته هغه مهال داخلې شوې کله چې په ۱۹۸۱ز. کال کې دواړو هېوادونو د ملګرتیا تړون (Treaty of Friendship) لاسلیک کړ. همدارنګه ۱۹۸۰یمو

کالونو کې مالدیپ د یوې کودتاه شاهد هم و، چې هند د واکمن نظام په ګټه په هغې کې مداخله وکړه او د (Operation Cactus) تر نوم لاندې یې عملیات وکړل او مالدیپ یې له دې سترې ننګونې وژغوره[4] او له هماغې وخت راهیسې د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور فضاء او نږدې اړیکې رامنځته شوې.

د مالدیپ اقتصاد تر ډېره په سیاحت ولاړ دی او دې هیواد ته تر ټولو ډېر هندیان د سیاحت لپاره ځي ځکه لنډ، مصارف یې کم او ښې منظرې لري، نو هند د مالدیپ سره په اقتصادي، زیربناوو په جوړولو او امنیتي برخه کې پراخه همکاري لري.

### د اړیکو د خرابېدو لاملونه

**1- له هند څخه چین ته اوښتل:** د مالدیپ په ۲۰۲۳ز. کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې په ټاکنو کې د محمد معیزو بریالیتوب او چین لوري ته د مالدیپ د بهرني سیاست اولویت اړول، په خپل ذات کې د هند د خفګان او د اړیکو د خرابېدو یو تر ټولو مهم لامل دی. محمد معیزو په ټاکنو کې له بریالیتوب وروسته له هند مخکې چین ته سفر وکړ او کله چې د چین له سفر څخه راوګرځېده، نو رسنیو ته یې وویل چې مالدیپ د هیڅ هیواد مستعمره نه ده، موږ خپلواک قوم یو او د یو دولت فرمایشونه هم نه منو. همدارنګه نوموړي دا هم وویل چې موږ یو کوچنی هیواد یو، خو د دې مطلب دا نه دی چې هر هیواد دې موږ ګواښي او بیا دې خپلې خبرې په موږ مني.[5] د معیزو له دې ټولو خبرو اساسي هدف هند و.

**۲- د مالدیپ د ځینو وزیرانو له لوري مودي ته توهین امیزه الفاظ کارول:** کله چې نریندر مودي لکشدیپ هندي جزیرې ته سفر وکړ او غوښتل یې هندیانو ته پیغام ورکړي چې د مالدیپ پر ځای دې هندي جزیرې ته د سیاحت لپاره راشي، نو دا د مالدیپ د حکومت د غصې لامل شو او دریو وزیرانو یې په ایکس (پخواني ټویټر) کې نریندر مودي ته ځینې توهین امیزه الفاظ استعمال کړل، دوی مودي ته د «مسخرې»، «ترهګر» او د «اسرائیلو غلام» الفاظ استعمال کړي وو. د یادونې وړ ده چې مالدیپ پر غزه د صهیونستي اشغالګر رژیم وحشیانه بریدونه غندلي وو او هند د اسرائیلو درېځ تایید کړی دی.[6] هند د اسرائیلو ستراتیژیک ملګری دی او د اسرائیلو له لوري پر غزې د اوسنیو بریدونو پلوی دی او مالدیپ د یو اسلامي هېواد په توګه د غزې د مسلمانانو حمایت کوي او د اسرائیلو دا بریدونه یې غندلي دي، د غزې په اړه د دواړو هېوادونه د دریځونو اختلاف هم پر اړیکو منفي اغیزه لري. همدارنګه هند د مودي تر رهبرۍ لاندې یو هندو پلوی مذهبي حکومت شکل خپل کړی دی چې تر ډېره د مسلمانانو په ګټه نه دی او مالدیپ د یو اسلامي هېواد په توګه دا موضوع هم درک کړې ده. په ټولنیزو رسنیو کې د مالدیپ د دریو وزیرانو له لیکنو وروسته د هند په ټولنیزو رسنیو کې عامو خلکو د مودي دفاع ته راودانګل او د مالدیپ سره یې د اړیکو د پریکون غوښتنه وکړه. د هند حکومت هم دا عمل وغانده او په ډهلي کې یې د مالدیپ سفیر احضار کړ. محمد معیزو خپل درې واړه وزیران لرې کړل او په رسمي بیانیه کې یې وویل چې دا زموږ د حکومت پالیسي او دریځ نه دی. دا هم یو لامل شو چې د دواړو هېوادونو پر اړیکو منفي اغیزه وکړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**۳- له مالديپ څخه د هندي پوځيانو د ويستلو اخطاريه:** محمد معيزو د جمهور رئيس کېدو وروسته هند ته د مارچ تر ۱۵مې نېټې پورې له مالديپ څخه د خپلو ۸۹ پوځيانو د ويستلو وخت ورکړ. هند د مالديپ په بېلابېلو جزيرو کې په دريو بحري لويو بېړيو کې چې د پوځي اډو شکل لري ۸۹ پوځيان لري او له دې لارې هند غواړي چې په دې سيمه کې امنيت قايم کړي او هند او مالديپ ته هر ډول گواښ دفعه کړي، خو مالديپ دا د خپلې خپلواکۍ له پاره گواښ گڼي او د همدې لپاره محمد معيزوو له هند څخه وغوښتل تر څو دا پوځيان وباسي تر څو مالديپ په تمامه معنی خپلواک شي. دا درېيم لامل دی چې د دواړو هېوادونو پر اړيکو يې منفي اغيزه کړې ده.

## د اړيکو د خرابېدو منفي پايلې

مالديپ تر ډېره له اقتصادي اړخه په هند تکيه دی. د (National Bureau of Statistics) د معلوماتو پر بنسټ په ۲۰۱۹ز. کال راهيسې د مالديپ ۴۵۰۰۰ خلک په سياحتي جزيرو کې په کار بوخت دي چې د مالديپ په کار بوختو خلکو ۷ سلنه تشکيلوي. همدارنگه په دغه کال کې د مالديپ د سياحت له درکه ۳,۱۷ ميلياره ډالر عايد لاسته راوړی دی چې د مالديپ د کلني عايد ۲۸ سلنه او د بهرنيو لارو لاسته راغلي عايد ۶۰ سلنه تشکيلوي. له ۲۰۱۱ز. کال څخه تر ۲۰۲۳ز. کال پورې هند د دې سياحينو څلورمه برخه تشکيلوي. له دې معلوميږي چې د مالديپ سياحت پر هند ولاړ دی او دا خرابې اړيکې کولای شي چې د مالديپ اقتصاد ته منفي پايلې ولري.

همدارنگه هند مالديپي وگړو د تداوۍ لپاره تر ټولو مهم ځای دی، د ۲۰۲۱ز.کال د ارقامو پر بنسټ هند يوازينی هغه هېواد دی چې مالديپي وگړي تر ټول زيات د تداوۍ په موخه ورځي. د دې ترڅنگ هند مالديپي وگړو ته په پراخه کچه د لوړو زده کړو زمينه برابروي او هغوی ته سکالرشيپونه ورکوي. همدارنگه هند تل د مالديپ سره په بحراني حالاتو کې مرسته کړې لکه په ۲۰۰۴ز. کال سونامي کې، ۲۰۱۴ز. کال د څښاک اوبو د بحران په حالت کې او د کرونا پرمهال،[7] نو که اړيکې ډېرې خرابېږي، نو دې ټولو برخو باندې به منفي اغيزه کوي او کېدای شي مالديپ لپاره په پورتنيو برخو کې منفي پايلې ولري، خو که له چين سره اړيکې نږدې کېږي، نو کېدای شي دې ټولو برخو کې د هند پرځای چين له مالديپ سره همکاري وکړي او دا منفي پايلې به هم يو څه راکمې شي.

د هند لپاره به منفي پايله دا وي چې هغه به په خپله سيمه (جنوبي اسيا) کې تر خپل نفوذ لاندې يو هېواد له لاسه ورکړي. همدارنگه په دې سيمه کې د چين د نفوذ رامنځته کېدل به بله منفي پايله وي او ددې ترڅنگ کېدای شي هند ته ځينې امنيتي اندېښنې هم پيداشي، ځکه هند د مالديپ په امنيتي سکټور پراخ تسلط درلود، د مالديپ دفاعي پوځيانو ټرېنگ ۷۰ سلنه د هند په لاس کې دی، د هغوی وسلې، مهارتونه او نورو اکثره امنيتي برخو کې هند په پراخه کچه دخيل دی، نو که هند له مالديپ څخه خپل پوځيان وباسي

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

او اړیکې همداسې خرابې پاتې شي، نو هند د مالدیپ له امنیتي برخې لرې پاتې شي او دا به هند ته ځینې امنیتي اندېښنې رامنځته کړي.

## د چین فکتور

نړۍ څو قطبیتوب طرف ته په چټکۍ مزل کوي او په دې ډول بین المللي نظام کې به لوی قدرتونه د خپل قدرت په اندازه برخه وال وي. هند یو قوي سیمه ییز قدرت دی او په نړیوال سیاست کې هم مهم ځای لري. په آسیا کې هند د یو نړیوال قدرت چین سره سیالي او جیوپولټیکي شخړه لري. هند د قاد (QUAD) په نوم د اتحاد غړی دی او د دې اتحاد اصلي موخه د چین د نفوذ مخنیوی دی. دا اتحاد امریکایان بسپنه کوي. چین په جنوبي اسیا کې د نفوذ هڅې کوي او په دې برخه کې په پاکستان، سریلانکا او بنګله دېش کې یې د پانګونې له لارې دغه هېوادونه تر ډېره پرځان متکي کړي دي. مالدیپ د جنوبي اسیا بل هغه هېواد دی چې چین هڅه کوي د هند له کنټرول او نفوذ نه یې راوباسي او د محمد معیزوو له بریالیتوب وروسته داسې ښکاري چې چین په مالدیپ کې پر هند برلاسه کېدونکی دی.

په ټاکنو کې له بریالیتوب وروسته معیزو له هند مخکې چین ته سفر وکړ او له ۸ جنورۍ څخه تر ۱۲ جنورۍ پورې هلته و. د دې سفر پرمهال یې له چین سره ۲۰ هوکړه لیکونه لاسلیک کړل چې په دې کې د سیاحت او د یوې لارې یو کمربند له لارې د اقتصادي او پانګونې همکارۍ هوکړه لیکونه شامل دي. همدارنګه په امنیتي برخه کې هم دواړو هېوادونو هوکړه لیکونه لاسلیک کړي په ځانګړي ډول د نړیوال امنیتي نوښتونو (Global Security Initiative) د تطبیق په برخه کې. دغو پرمختګونو له یوې خوا هند ته او له بلې خوا په سیمه کې جاپان، استرالیا او امریکا متحده ایالاتو ته هم اندېښنې پیداکړې، ځکه دغه هېوادونه هڅه کوي چې د چین د نفوذ مخنیوی وکړي.

د دې سفر پرمهال چین او مالدیپ د ستراتیژیک مشارکت یو اکشن پلان ( Action Plan for Building a China-Maldives Comprehensive Strategic Cooperation Partnership) هم لاسلیک کړ او د دې پلان له لارې به راتلونکو ۲۵ کالونو کې دواړه هېوادونه د دوه اړخیزو همکاریو ترڅنګ په سیمه کې هم له یو او بل سره همکاري کوي. دې ستراتیژیک مشارکت مالدیپ په مکمل ډول د چین امنیتي چوکاټ لاندې راوست. چین هڅه کوي په هندي سمندر کې خپلې جاسوسي کښتۍ ډېرې کړي او خپل امنیت له دې ځایه وساتي، د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره مالدیپ هم همکاري کولای شي.[8]

معیزوو د خپل ټاکنیز کمپاین پرمهال د (India Out) شعار پورته کړی و او له بریالیتوب وروسته یې په بهرني سیاست کې چین د لومړۍ کربښې په توګه ځای درلود او د همدغه ځای د ساتنې او د چین په مرکزیت د خپل بهرني سیاست د راخرخولو په موخه یې په ۲۰۲۳ز. کال د ډسمبر په میاشت کې د کولمبو امنیتي غونډې (Colombo Security Conclave (CSC)) کې ګډون ونکړ. دا امنیتي غونډه د هند په نوښت په ۲۰۱۱ز. کال کې رامنځته شوې او فعلاً یې هند، سریلانکا، مالدیپ او مورشس (Mauritius) غړي دي. دا

چې د امنیتي غونډې د هند په مرکزیت راڅرخي په همدې مالدیپ غونډه کې ګډون ونکړ او په امنیتي برخه کې چین ته د تمایل په موخه یې د چین په نوښت رامنځته شوې (China-Indian Ocean Region Forum on Development and Cooperation (CIOFRDC) غونډه کې ګډون وکړ او جمهور رئیس خپل مرستیال حسین محمد لطیف دې غونډه ته ورولېږه. دا غونډه د هند په نوښت جوړه شوې غونډې ته ورته ده او جالبه دا ده چې دواړه غونډې د ۲۰۲۳ز. کال د ډسمبر په میاشت کې وشوې.[9]

چین په هندي سمندر کې یوازې امنیتي اندېښنو د رفع کولو لپاره نه بلکې د خپلو اقتصادي موخو د ترلاسه کولو لپاره هم غواړي په دې سیمه کې نفوذ پیداکړي، ځکه په دې سیمه کې د مالاکا مهم تنګی دی چې د چین لپاره تر ټولو مهمه اقتصادي لار ده او امریکا متحده ایالات او هند غواړي چې دغه لارې د چین لپاره ستونزمنه کړي، نو د همدغو اقتصادي او امنیتي اندېښنو د لمنځه وړلو په موخه چین غواړي په هندي سمندر کې پراته هېوادونو کې خپل نفوذ پراخه کړي او مالدیپ یو له دغو هېوادونو څخه دی.

لنډه دا چې چین لور ته د مالدیپ اوښتل د هند لپاره امنیتي او اقتصادي اندېښنې لري او د دغو اندېښنو د لمنځه وړلو په موخه به هند په مالدیپ هر ډول فشار راوړي تر څو له چین څخه وګرځي او یا حد اقل د هند ځینو اندېښنو ته ځواب ووايي او تراوسه پورې د چین فکتور د دواړو هېوادونو د اړیکو په خرابوالي کې مهم رول لوبولی او همدا فکتور کېدای شي راتلونکي کې هم دا اړیکې لا خرابې کړي.

## پایله

هند او مالدیپ نږدې تاریخي اړیکې لرلې دي او له ۱۹٦۵ز. کال او په ځانګړې ډول له ۱۹۸۰یمو کالونو څخه وروسته مالدیپ تر ډېره په اقتصادي او امنیتي لحاظ پر هند متکي و. په مالدیپ کې د معیزوو له بریالیتوب وروسته مالدیپ په خپل بهرني سیاست کې لوی بدلون راوست او له هند څخه چین ته واوښتل.
هند د یو سیمه ییز قدرت او د چین د سیال په توګه د مالدیپ دې کار ته اندېښمن دی، ځکه له یوې خوا په پاکستان کې د چین نفوذ او له بلې خوا په پراخه کچه په مالدیپ کې د چین نفوذ چې دواړه د هند سره ګډه پوله لري په امنیتي لحاظ د هند لپاره اندېښنې زېږولې دي او د نورو لاملونو ترڅنګ د مالدیپ او هند د اړیکو د خرابوالي کې چین فکتور مهم رول لوبولی دی. د هند او مالدیپ خرابې اړیکې د مالدیپ لپاره په اقتصادي برخه کې او د هند لپاره په امنیتي برخه کې منفي پایلې لري.
همدارنګه بین المللي نظام د څو قطبیتوب طرف ته په چټکۍ روان دی او په دې نظام کې د چین او هند سیالۍ هم شاملې دي، مالدیپ د دوی سیالۍ د ځان لپاره فرصت ګڼي او هڅه کوي چې د دوی له لارې خپلې امنیتي او اقتصادي ګټې خوندي کړي.

## وړاندیزونه

۱- مالدیپ د یو خپلواک دولت په توګه حق لري چې خپل بهرنی سیاست د خپلو ګټو پر بنسټ تنظیم کړي، خو د دې لپاره چې د لویو قدرتونو د سیالیو ډګر نشي، ښه ده چې د هند او چین ترمنځ په بهرني سیاست کې توازن وساتي.

۲- هند هم باید مالدیپ ته د یوې مستعمرې په نظر ونه ګوري، د هغوی ملي حاکمیت ته دې احترام وکړي او د یو خپلواک دولت په توګه دې ورسره تعامل وکړي.

۳- دا چې بین المللي نظام د څو قطبیتوب طرف ته روان دی، نو دا کوچنیو دولتونو ته یو فرصت دی تر څو د لویو قدرتونو د سیالیو څخه ګټه واخلي او خپلې اقتصادي او امنیتي ګټې خوندي کړي، افغانستان هم باید دې فرصتونو ته اماده ګي ولري.

## مأخذونه

---

[1] محمد ثناء الهدی قاسمی. مالدیپ اور هندوستان کې بگړی تعلقات، سیل روان ویب سایټ، ۲۰۲۴ز. کال، د لاسرسي وړ لینک: https://sailerawan.com/elementor-10527/

[2] Rahul M. Lad & Ravindra G. Jaybhaye. Reciprocal Alliances: Unpacking the Mutual Dependence of India and Maldives, The Geopolitics, March 2, 2024, Access link: https://thegeopolitics.com/reciprocal-alliances-unpacking-the-mutual-dependence-of-india-and-maldives/

[3] Ibid.

[4] Ibid.

[5] ډي ډبیلو نیوز ایجنسي. بهارت- مالدیپ تنازعه: ہم پر کوئی دھونس نہیں جما سکتا، معیزو، ۱۵ جنوری ۲۰۲۴، لاسرسي وړ لینک: https://www.dw.com/ur/%D8%A8%DA%BE%D8%A7%D8%B1%D8%AA-%D9%85%D8%A7%D9%84%D8%AF%DB%8C%D9%BE-%D8%AA%D9%86%D8%A7%D8%B2%D8%B9%DB%81-%DB%81%D9%85-%D9%BE%D8%B1-%DA%A9%D9%88%D8%A6%DB%8C-%D8%AF%DA%BE%D9%88%D9%86%D8%B3-%D9%86%DB%81%DB%8C%DA%BA-%D8%AC%D9%85%D8%A7-%D8%B3%DA%A9%D8%AA%D8%A7-%D9%85%D8%B9%DB%8C%D8%B2%D9%88/a-67980336

[6] مخکینی مأخذ.

[7] Rahul M. Lad & Ravindra G. Jaybhaye. Reciprocal Alliances: Unpacking the Mutual Dependence of India and Maldives, The Geopolitics, March 2, 2024, Access link: https://thegeopolitics.com/reciprocal-alliances-unpacking-the-mutual-dependence-of-india-and-maldives/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[8] Rishi Gupta. Ripples in Maldives-India relations: The China factor, Think China, 31 Jan, 2024, Access link: https://www.thinkchina.sg/ripples-maldives-india-relations-china-factor
[9] Ibid.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

تماس: +۹۳۷۸۰۶۱۸۰۰۰ : +93780618000